# ما او رسول الله صلى الله عليه وسلم به په داسې حال کې له یوه لوښي څخه لامبل چې دواړه به جنب وو، او کله به چې حېض وم، نو امر به يې راته وکړ چې ځان بسته کړه نو زما سره به نږدې کېده (لوبې به يې کولې) او زه به حاېضه وم،

له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی وایې: ما او رسول الله صلى الله عليه وسلم به په داسې حال کې له یوه لوښي څخه لامبل چې دواړه به جنب وو، او کله به چې حېض وم، نو امر به يې راته وکړ چې ځان بسته کړه نو زما سره به نږدې کېده (لوبې به يې کولې) او زه به حاېضه وم، او کله به چې اعتکاف و نو له - جومات - څخه به يې د وېنځلو لپاره سر راوویست، پداسې حال کې چې زه به حاېضه وم.
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

عایشې رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د خپلو ځینو خاصو حالاتو په اړه خبر ورکړی، چې له هغې حالتونو څخه یې ځیني دا دي چې: هغې به د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د جنابت په حالت کې له یو لوښي څخه غسل کاوه، او دواړو به ترې اوبه راخېستې. او دا چې کله به رسول الله صلى الله عليه وسلم د حیض په حالت کې غوښتل ورسره یو ځای شي نو امر به یې ورته وکړ تر څو خپل بدن د نوم له غوټ نه لاندې تر ځنګنونو پورې بسته کړي، نو بیا به یې له جماع پرته مباشرت ورسره کاوه. او دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په جومات کې اعتکاف کاوه، نو خپل سر به یې عایشې رضي الله عنها ته له جومات څخه د وېنځلو لپاره راوویست په داسې حال کې چې هغه به په خپل کور کې د حېض په حالت کې وه.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3476

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee